




Orientation to Ontario

# ماشوم ځورونه

ماشوم ځورونه دا ده چې مور،پلار یا پالونکی ماشوم یا ځوان ته زیان رسوي او دا زیان ماشومانو ته د پاملرنې په برخه کې د غفلت په شمول فزیکي، احساساتي یا جنسي کېدلی شي. دا په کاناډا کې غیرقانوني ده. د ماشومانو د مرستې ټولنه (CAS) د ماشوم ځورونې ټول راپورونه څېړي او ډاډ ترلاسه کوي چې ماشومان په خوندي او ملاتړ کوونکي چاپیریال کې ژوند کوي.

فزیکي ځورونه – هر هغه عمل چې د فزیکي زیان یا ټپي کېدو لامل کیږي.

په دې کې وهل، ټکول ، په سوک او لغته وهل سوځول یا نور زیان رسونکي عملونه لکه د سزا ورکولو په توګه خواړه ترې منع کول یا ماشوم په خونه کې بندي کول شامل دي د اصلاح لهپاره سپک وهل– د خپل چلند د سمولو لهپاره په خلاص لاس یا څپېړه یو ماشوم په سپک ډول وهل. دا په کاناډا کې قانوني دی مګر دا لارښوونې تعقیب کړئ:

- د خپلې غوسې له امله ماشوم مه وهئ.
- داسې څیز یا قوت مه کاروئ چې ماشوم ټپي یا یې په بدن نښه پاتې شي.
- د 2 کالو کم او له 12 ډېر عمر لرونکي ماشومان مه وهئ.

والدین او پالونکي باید د خپلو ماشومانو د ډسپلین لهپاره نورې لارې ومومي.

عاطفي یا احساساتي ځورونه - دا ډول ځورونې کولی شي د ماشوم پرمختګ ته زیان ورسوي او وروسته ورته ستونزې پیدا کړي. د عاطفي ځورونې تر ټولو عام ډولونه عبارت دي له:

- د له ملګرتیا کولو څخه منع کول یا ماشوم ته له خپلو ملګرو سره ټولنیز کېدو اجازه نه ورکول.
- ماشومان کورنی تاوتریخوالی ویني.
- پرلهپسې نیوکه ، سپکاوی ، چیغې وهل او غوسه کول.

غفلت – ماشوم ته د لومړنیو اړتیاوو نه برابرول. لویان اړ دي چې لاندې توکي چمتو کړي

- خواړه، سرپناه، جامې او طبي پاملرنې.
- ښوونځي کې د منظم حضور اسانتیاوې برابرول او نظارت کول.
- مینه، ملاتړ.

که مور او پلار یا نور پالوونکي د خپلو ماشومانو لومړني اړتیاوې پوره نه کړي مجرم دي. که والدین د فشار، روغتیا یا مالي ستونزو له امله د خپل ماشوم په پالنه کې ستونزه ولري، د ماشومانو د مرستې ټولنه او نورې دولتي ادارې به د دې ډاډ ترلاسه کولو کې مرسته وکړي چې د ماشومانو ښه پالنه کیږي.

جنسي ازار یا ځورونه – هر ډول جنسي تعامل چې ماشومان په کې ښکېل وي.

په دې کې فزیکي او غیر فزیکي جنسي اړیکه شامله ده. دا اکثره د کورنۍ غړي یا د کورنۍ ملګری وي چې په ماشوم یا تنکي ځوان جنسي تیري کوي. جنسي تیري ممکن د لویانو، تنکیو ځوانانو یا نورو ماشومانو لهخوا ترسره شي.

د ماشومانو پرونوګرافي یا فحشا او جبري فحشا د جنسي تیري عام مثالونه دي. په انټرنیټ یا چاپي بڼه د ماشومانو د پورنوګرافي رامنځ ته کول ، درلودل یا کتل یو جدي جرم دی.

1-855-626-0002
orientationontario.ca/en



Funded by / Financé par :

Ontario

Immigration, Refugees and Citizenship Canada

Immigration, Réfugiés et Citoyenneté Canada

د رضايت عمر - له 16 کلنی څخه کم عمره ماشومان نه شي کولی په قانوني توګه جنسي فعاليت ته راضي شي، حتی که دوی د جنسي اړيکي د نيولو موافقه هم وکړي.

- د 16 کلونو څخه کم عمر لرونکي ماشوم سره جنسي اړيکه نيول قانوناً جنسي تيری دی او ډېر جدي جرم دی.
- له اتلسو کالو کم هيڅ کس نه شي کولی د فحاشي يا پرونوګرافی ته رضايت ورکړي.

د واده لپاره رضايت – که په اونټاريو کې د مور او پلار له اجازې پرته واده کول غواړئ نو تاسو بايد اتلس کلنی عمر پوره کړی وي.

هيڅوک او په هيڅ عمر کې په زور يا چل واده کولو ته نه شي مجبوريدلی، او هر متاهل کس کولی شي په محکمه کې قانوني طلاق ترلاسه کړي، حتی که مېړه يا مېرمن يې موافق هم نه وي.

## د ماشومانو د ازار يا ځوروني پاېلي

که د ماشومانو د مرستي ټولنه فکر وکړي چې ستاسو ماشومان په خطر کې دي، دوی کولی شي د ازار يا ناوړه ګټه اخيستنې د جديت په پام کې نيولو سره، په لنډمهاله يا دايمي توګه ستاسو ماشومان له ځانه سره يوسي. ځورونکی يا ازارونکی نيول کېدای هم شي.

په اونټاريو کې هر بالغ د قانون له مخې اړ دی چې د. ماشومانو د ازار او ځوروني په اړه راپور ورکړي او ټول راپورونه محرم دي.

ماشومان بايد ښوونکي، ډاکټر يا بل باوري بالغ ته د ناوړه ګټه اخيستنې يا ځوروني راپور ورکړي

## د ماشومانو د ځوروني په اړه د راپور ورکولو په موخه

1-1-2 ته زنګ ووهئ او د ماشومانو د مرستي محلي ټولنې د اړيکو شمېره وغواړئ.

په اونټاريو کې له ماشومانو سره د مرستي ټولنې په اړه د معلوماتو ترلاسه کولو لپاره oacas.org وګورئ.

که تاسو فکر کوئ چې يو ماشوم همدا اوس په خطر کې دی، 9-1-1 ته زنګ ووهئ او د پوليسو غوښتنه وکړئ.

سايبر ټېپ ته د ماشومانو د استثمار په اړه په cybertip.ca کې راپور ورکړئ.

